﴿ ۲ ﴾

# افغانستان د پخواني مدنيت دوې دورې

دوه نيم زره کاله تر ميلاد دمخه د سپين پوستو انسانانو لويو ډلو د آرين له اويجې څخه د کوچني خلکو په ډول د خپلو غيلو سره د آمو دريا له شمالي څنډو څخه د بخدي او باختر سيمو ته يو عمومي هجرت وکړ، چي دوی وروسته خورا ډېر سول او د بخدي تر سيمو راواوښتل د هندوکش په شمالي او جنوبي کښي هم استوګنه سول.

په زرو کلونه تېر سول د دوی نفوس او مالونه ډېرېدل څو چي د لمرخاته پر لوري تر اباسين هم ورتېر سول او د هندوستان شمالي ارتې سيمي ئې ونيولې.

په دې وختو کښي دوی هم دلې يعنی د افغانستان په تاريخي سيمو کښي له سارانشيني څخه ښارنشين سول او يو مدنيت ئې جوړ کړ چي موږ هغه ته ويدي مدنيت له دې جهته وايو چي احوال او اوضاع ئې د ويدا په څلورو کتابو کښي ښکاره کيږي ا ودا زموږ د تيرو نيکه ګانو هغه جوړ کړئ فرهنګ دئ چي (۱۴۰۰) کاله تر ميلاد دمخه و، د ويدا په کتابو کښي د افغانستان د ځينو خلکو او ځايو نومونه راغلي دي او دا ښکاره کوي چي دغو خلکو د ويدونو په جوړولو کښي برخه درلوده، مثلاً د پښتون نوم د پکهت په شکل ذکر سوئ او د لغمان او نورستان د خلکو نوم اينا دئ چي د دې قديم نامه ريښې اوس د اليشنګ او الی نګار

په نومو كښي پيدا كولاى سواى، د ويدي مدنيت او د دغي زماني ډېر نومونه داسي دي چي تر اوسه يې هم ريښې زموږ په ژبو پښتو او درى كښي سته. مثلاً دوى ځانونه آرين بلل يعنى اصيل او نجيب چي تر اوسه هم په پښتو آره اصل او بنياد ته وايو او د تسميې نوم په پښتون سره آرين كيږي، يعنى د اصل او بنياد خاوند.

دوى خپل ديني پيشوايان رېشي بلل يعنى د رشي او سلوك او پوهي او اخلاقو خاوندان چي رشه تر اوسه هم په پښتو دغه معنى لري، د ريك ويد په سندرو كښي اباسين د سند هواو د كابل رود د كوبها او د كومل رود د كوماتي او كورم د كرومو او سوات د سوبتي او كنړ دوركه او ارغنداو د هره وبتي او پولان د بهالانه او بلخ د بهليكه په شكل ذكر كيږي او د يوه پښتون پاچا نوم په ريك ويد كښي توره وينه يعنى توره وهونكى او په اوسنى اصطلاح تورباز دئ چي ځيني پوهان ئې طره باز ليكي.

د ريك ويد په دوهم ټوك كښي د هرويتي يعنى د هراو او ارغنداو په سيمو كښي د پنى ــ ډلسه پراوته، بربسه قبايلو ذكر كيږي او دغه قبايل تر اوسه هم د پنى ډاسو، پروټ ، بړيڅ په نومو ورې سته او دا ښيي چي د دوى ريښې درې زره كاله زړې دي. په ويدي ژبه دوى كورنى ته كولا وايه او دا كلمه د پښتو اوسنى كهول دئ ، دوى څلور ډلې خلك درلودل چي لومړى روحاني ډله برهمن (د پښتو برمن) او دوهمه جنگي ډله كشتريه (په پښتو كښي تور او د پير روښان توركښي) او دريمه ډله ئې ښاري او كسب كاره خلك وه چي ويسيه ئې بلل يعنى د ويسا او اعتماد وړ. څلورمه ډله ناملوسه سدران وه چي سود رابلل سوي دي او د دغو نومو ريښې تر اوسه هم زموږ په ژبه كښي سته.



داسي ښكاري چي د ويدي دورو خلكو شاهي سازمان درلود په (۱۹۳۹ م) د سمرقند د تل برزو څخه يو خاورين لوښي پيدا سو چي پر هغه د يوه قديم آريائى پادشاه كيومرث شكل سته چي يو شپان پادشاه و دې خلكو د سبها په نامه جرگې درلودې او د سامانه په نامه ئې ميلې كولې، شعر د مروښې مراسم، موزيك، ورزش بازى، سپرلو وي، اتڼ او ډېر ملي دودونه ئې درلودل. كار ئې مالداري وه او د څارويو له وريو څخه به ئې كالي جوړول، خواړه ئې حيواني مواد او د غوا شيدې وې. كښت ئې كاوه او ژر غوبې به ئې سوما بوټي د رانيولو لپاره راوستل چي هغه ئې پاسو بلل او ښائي چي د پيسله كلمه له دې ريښې څخه راوتلې وي.

د دوى صنايع د لرگو او فلز څخه وه كالي، بوريا، خاورين لوښي او فلزى كښتي هم درلودې. د سوما غرنى بوټي څخه ئې يو داسي مشروب جوړاوه چي هغه به ئې د عبادت پر وخت چيښلئ، مشهور ارباب انواع ئې وارونا (د اسمان رب النوع) ايندره (د جنگ رب النوع) سوريا (د لمر رب النوع) اكنى (د اور رب النوع) ماروت ( د باد رب النوع) وُ چي د هر يوه په نامه به ئې قرباني كولې.

د ويدي مدنيت دغه كلمات له څلورو ويدو څخه ښكاري ا ودا هغه د آريائي مشترك كلتور دوره ده چي زموږ او پخواني هند تر منځ گډ مبادي لري. او د زېږېدني او جوړښت اصلي او قديم ځاى ئې د افغانستان سيمي د بخدي وادي، د هندوكش لمني د كابل او ارغنداو او اباسين او كندهارا ناوې دي.

تر ميلاد (۱۲۰۰) كاله دمخه د افغانستان آريايي خلكو يو بل مدنيت هم درلود او ځكه چي د دغه كلتور منبع د اوستا كتاب دئ نو موږ ئې

اوستائي مدنيت بولو. د دې مدنيت او کلتور زېږنتون هم بخدي او بلخ دئ او د اوستا د کتاب پنځه بابه چې تر اوسه پاته دي د افغانستان د خلکو ددغي زماني او فکري او فرهنگي اوضاع ښه ښکاره کوي.

له اوستا ځخه ښرگندېږي چې آريائي خلك له کوچي ژونده ځخه اوس راوتلي دي، په کلو او ښارو کښي ميشت سوي او په اقتصادي او اجتماعي ژوندانه کي يوه نوې دوره شروع کړېده.

اوستا وايي : چې په دغه وخت کښي په بلخ کښي لومړی شاهي جوړه سوه او يمه (جم) پادشاه په بخدي کښي يو واره يعني ښار جوړ کئ، او خلك او څاروي ئې پکښي ميشته کره. دلته زره توشتره يعني زردشت چې له کورنۍ څخه سپيتمان (يعنی سپین تومني) او پاکزاد وو، يو دين تبليغ کئ، چي مزده يسنه يعني د خدای ستاينه نوميدئ.

زردشت تر ميلاد دمخه د (۱۶۰) کال په حدودو کښي د دوغدو له نسه وزېږېدئ. پلا رئې پوروشاسپه (يعنی زوړ آس) نومېدئ، او درې زامن ئې لرل چي لومړی د مويدانو مشر او دوهم د بزگرانو مشر او دريم د جنگيالانو سالار وه او د زردشت په امت کښي هم دغي درې ډلې خلك روحاني ــ بزگران ــ او جنگي موجود وه.

تر ميلاد دمخه په (۵۸۳) کال زردشت د توراني ارجاسپ په جنگ کښي د بلخ په آتشکده کښي براترکرش توراني وواژه، او زردشت په افغانستان کښي لومړی پلا يو داسي اخلاقي او اقتصادي نظام جوړ کئ چې د کوچني ژونده ځخه د بزگري او ده نيشتني سره مناسب وُ، دلته د کښت او څر مځکي قبيلو ته ووېشلي سوې او خلکو ته دينا وظيفه وټاکله سوه چې په کرنه بوخت سي او غوبي وساتي او خپلې مځکې ودانې کي او خپل څاروي په ټاکلو اورشوو کښي وڅروي او د خپلو



شاهانو او مشرانو تر سيوري لاندي آرام ژوند وکي او ښتيا د خپل کار او ژوند اساس وگرزوي.

زردشت د لوی خدای (ج) اهوره مزد، اووحدت او عظمت مني، خير او شر، رڼا او تياره، خرد او اهريمن يو له بله په جگړه کښي سره بولي او انسان ته د خير او رڼا سپارښت کوي او د ده په عقايدو کښي جنت او دوزخ او برزخ او پل صراط او فرشتگانو وجود ستة دی د سپينو او جاويدانو مقدسو شپږو پرښتو وجود ښئي چي موکلي پرښتې او د اهوره مزدا د صفاتو مظاهر دي.(۱)

(۱) پښتون ږغ مجله، ۱۳۴۶ لمريز کال، ۱۲ مه گڼه، ۹ م مخ.